# افغانستان

## په وسله واله شخړه کې د ملکیانو ساتنه

ځانګړی رپوټ: د ۲۰۱۹ کال په ټولټاکنو پورې اړوند تاوتریخوالی



UNAMA

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

اکتوبر، ۲۰۱۸

کابل، افغانستان

## عمومي کتنه

د سپټمبر په ۲۸مه افغانستان  د ۲۰۰۴ کال راهیسې د څلورم ځل د پاره د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره کړې. پداسې حال کې چې د رای ورکولو د ورځې د مخه په میاشتو کې په ټاکنو پورې د اړوند د تاوتریخوالي کچه نسبتا ټيټه وه ، د جولای او سپټمبر په میاشتو کې د ټاکنو د محلونو پر وړاندې دوه درانه ځانمرګي بریدونه او ددې ترڅنګ د طالبانو لخوا په پراخه کچه د ویروونې کمپاین د دې لپاره چې افغانان په ټاکنو کې برخه وانخلي ، اندیښنه او شک راپورته کړ چې د ټاکنو په ورځ به څه پیښ شي. د تاوتریخوالي له ویرې سره سره ، افغانانو د خپل اساسي قانون په رڼا کې د رای ورکولو حق وکاراوه او هغه ورځ پرته له کومې لوې پیښې پای ته ورسیده. خو د سپټمبر په ۲۸ ، د ولسمشرۍ د ټاکنو په ورځ ، یوناما په ټول هیواد کې د ټاکنو اړوند ۱۰۰ پیښې چې ملکي تلفات لرې، مستندې کړي. په ټوله کې یاد تلفات، د ډیری ملکیانو په ګډون چې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې یې برخه نه وه اخیستې، طالبانو ته منسوب شوي.

دغه ځانګړی ریوټ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما)[1] لخوا چمتو شوی چې په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي په تړاو د ځارنې موندنې وړاندې کوي. یاده ځارنه د یوناما د بشري حقونو د ځانګې له خوا تر سره شوې چې د نوم لیکنې د تقویتي پړاو پر مهال د لومړۍ ورځې څخه نیولي کوم چې د ۲۰۱۹ کال د جون د میاشتې په ۸ مه پیل او د سپټمبر په ۳۰ پای ته ورسیده، یعني د ولسمشریزو ټاکنو د رایې ورکولو له ورځې څخه دوه ورځې وروسته، تر پوښښ لاندې نیسي.

د یوناما ابتدایي ارقام ښیې چې د رای ورکولو په ورځ د ۲۷۷ ملکي تلفاتو (۲۸ مړه او ۲۴۹ ټپیان) په ګډون، د انتخاباتي پروسې پر وړاندې بریدونه د ټولټال ۴۵۸ ملکي تلفاتو (۸۵ مړه او ۳۷۳ ټپیان) لامل شوي. په ټوله کې، په ۲۰۱۹ کې د ملکي تلفاتو ارقام د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو په پرتله یعني د ټاکنو د ورځې دمخه او د اکتوبر په شلمه د رایې ورکولو په ورځ[2]، د پام وړ ټیټ وو. خو ، د ملکي تلفاتو کچه د ۲۰۱۹ کال د اپریل[3] په میاشت کې د ولسمشرۍ ټاکنو د لومړي پړاو لپاره د رایې ورکولو د ورځې څخه لوړه وه او د هماغه کال په جون کې[4] د دویم پړاو ټاکنو لپاره د رایې ورکولو د ورځې څخه هم لوړه وه. د ځانګړې اندیښنې وړ خبره دا چې په ۲۰۱۹ کال کې د رایې ورکولو په ورځ د ۱/۳ برخې څخه زیات ملکي تلفات ماشومان وو. په ۲۰۱۹ کال په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي له امله د ټولو ملکي تلفاتو له ۸۰ سلنې څخه زیات او د ټولټاکنو په ورځ په انتخاباتو پورې د اړوند تاوتریخوالي په پایله کې د ټولو ملکي تلفاتو کابو ۹۵ سلنه طالبانو ته منسوب شوې[5].

---

[1] دغه ریوټ د یوناما د بشري حقونو د څانګې لخوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) د پریکړه لیک سره سم د یوناما د ماموریت په مطابقت سره چمتو شوی ترڅو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د هغوی د محافظت د تامین لپاره هڅې همغږي کړي ، [...] حساب ورکونې ته وده ورکړي ، [ ...] او د افغانستان اساسی قانون او نړیوال تړونونو کې د مندرجو اساسي آزادیو او بشري حقونو د اساسي احکامو په بشپړ پلي کولو کې د افغانستان سره مرسته وکړي چې افغانستان یې غړیتوب لري، په ځانګړې توګه هغه تړونونه چې ښځې د خپل بشري حقونو څخه په بشپړه توګه ګټه واخلي. یوناما ، د هغو پیښو په اړه چې ملکي وګړو ته مرګ او ژوبله اړوي د خپلواکه او بې پرې حقیقت موندنې او ځارنې په شمول، د فعالیتونو یوه لړۍ په لاره اچولې چې موخه یې په ملکي خلکو د وسله والې شخړې د اغیزې کمول، د شخړې ټولو اړخونو سره اډوکسي (عدالت غوښتنه) ، او د نړیوال بشر دوستانه قانون او بشری حقونو د قانون ، او همدارنګه د افغانستان د قوانینو او اساسی قانون سره د مطابقت د هڅولو نوښتونه، دي.
[2] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما پ ټولټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي په نتیجه کې ټولټال ۱۰۰۷ ملکي تلفات ( ۲۲۶ مړه او ۷۸۱ ټپیان) تایید کړي و په کوم کې چې د انتخاباتو پورې د اړوند تاوتریخوالي له امله نږدې د نمیايي څخه زیات ملکي تلفات د طالبانو لخوا اړول شوي و. دې ملکي تلفاتو یوازې ۴۳۵ ملکي تلفات (۵۶ مړه او ۳۷۹ ټپیان) د اکتوبر په ۲۰ ، د رایې ورکولو په لومړۍ ورځ اړولی، کوم چې په ۲۰۰۸ کې د هرې بلې ورځې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه کچه وه. په ۲۰۱۸ کال کې د رایې ورکونې موده د څو ورځو لپاره وغځیده. په ۲۰۱۸ کال په انتخاباتو پورې د اړوند تاوتریخوالي په اړه د لا نور معلوماتو لپاره، ددغې موضوع په تړاو د یوناما دوه ځانګړي ریوټونه چې په لاندې لینک کې شتون لري، وګورئ.
https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.
[3] یوناما ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۵ نیټه (د ولسمشرۍ د تیرو ټاکنو لومړي پړاو لپاره د رایې ورکولو ورځ) په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي په پایله کې د ۱۵۹ ملکي تلفاتو (۳۲ مړه او ۱۲۷ ټپیان) مستند کړې.
[4] یوناما ۲۰۱۴ کال د جون په ۱۴ نېټه (د ولسمشرۍ د تیرو ټاکنو دویم پړاو لپاره د رایې ورکولو ورځ) د ټاکنو پورې اړوند په تاوتریخوالي کې د ۲۵۱ ملکي تلفاتو (۵۲ مړه او ۱۹۹ ټپیان) مستند کړې.
[5] د ۲۰۱۹ کال د جون څخه تر سپټمبر ۳۰ پورې، د نوم لیکنې د تقویتي پړاو له پیل راهیسې، یوناما په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي په پایله کې ټولټال ۳۷۹ ملکي تلفات (۶۴ مړه او ۳۰۶ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي دي. پدې کې ۲۶ ملکي تلفات (۲۸ مړه او ۲۳۵ ټپیان) هم شامل دي، چې یوناما د ټاکنو په ورځ طالبانو ته منسوب کړې.

د هغو بریدونو په شمول چې په مستقیم ډول ملکیان، رای ورکونکي، د ټاکنو کارکونکي، کمپاینران، د ټاکنو غونډې او د رایې اچونې مرکزونه په نښه کوي، دغه راپور په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي په تړاو ملکیانو ته اوښتې زیان مستندوي، دغه زیان تر ډېره بریده د هیواد په کچه د طالبانو له خوا د پراخو عملیاتو په پایله کې را منځ ته شوي چې موخه یې د ولسمشریزو ټاکنو ګډوډول وو. د طالبانو په اکثرو بریدونو کې د وسلو غیر مستقیم سیستمونو لکه راکټونه ، لاسي بمونه او هاوانونه ، کارول شوي. همدا راز، په یادو عملیاتو کې د په لاس جوړ چاودیدونکي توکي (IEDs) چې د رایې ورکولو په مرکزونو یا هغو ته په نږدې سیمو کې، د ښوونځیو په ګډون، ځای په ځای شوي وو، کارول شوي وو. دغه رپوټ په جزییاتو سره بیانوي چې څنګه د وګړو په ملکي میشت سیمو کې د دغو وسلو کارول بې توپیره اغیزه درلوده او د ماشومانو په ګډون، ملکي وګړو ته زیان رسوي. پداسې حال کې چې په ټاکنو پورې اړوند بریدونه د انتخاباتي پروسې د ګډوډولو په موخه ترسره شوي وو ، همدا راز، ډیری ملکي وګړي چې د رایې ورکولو له محلونو لرې و او په انتخاباتي پروسه کې یې فعاله برخه نه وه اخیستې د ورته بریدونو له امله زیانمن شوي. یاد راپور د تښتونو ، ګواښونو ، ډارونو او ځورونو یوه نمونه هم په ګوته کوي، چې د ټاکنو پرمهال او د ټاکنو څخه مخکې، د طالبانو لخوا د ملکي خلکو پر وړاندې ترسره شوي.

دغه راپور بیا ټینګار کوي چې په افغانستان کې انتخاباتي پروسې ملکي چارې دي او په ټاکنو کې برخه اخیستنه د ټولو اتباعو اساسي او بنیادي حق دی چې د نړیوال بشري حقونو او د افغانستان په قوانینو کې تضمین شوې دی. د ملکي وګړو او ملکي شیانو لکه د رای ورکوونکو ، د ټاکنو دکارکوونکو ، کمپاین کونکو، د انتخاباتي غونډ ځایونو او د رایې ورکولو د مرکزونو پر وړاندې د تاوتریخوالي قصدي اعمال او بې توپیره بریدونه ، د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې په کلکه منع شوي او جنګي جرمونه ګڼل کیږي. د افغانستان د ملکي وګړو پر وړاندې پراخ یا سیستماتیک بریدونه ممکن د بشریت پر وړاندې جرمونه رامنځ ته کړي. د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې، ملکي وګړو ته د ټاکنو په محلونو د بریدونو د ترسره کولو خبرداری نشي کولی چې د اخطار ورکونکې ډلې مکلفیتونه رفع کړي. سربیره پر دې، د ملکي وګړو ترمنځ د ترهه خپرولو په موخه د تاوتریخوالي اعمال یا ګواښونه د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې منع شوي دي.

لدې امله ، یوناما هغه ټول بریدونه په کلکه غندي کوم چې د افغانستان د ټاکنو پروسې ، د ملکي وګړو په ګډون کوم چې په ټاکنو او د ټاکنو په تړاو په فعالیتونو کې برخه اخلي، په نښه کوي.

یوناما د افغانستان د حکومت او د هغه د امنیتي ځواکونو لخوا د ترسره شویو اقداماتو او هڅو ستاینه کوي چې موخه یې په ټاکنو کې د افغانانو د ګډون د حق او له زیانونو څخه د هغوی ساتنه ده، په ځانګړي توګه د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د هغو هڅو یادونه کوي چې په خوندي ډول یې په لاس جوړ چاودیدونکي توکي کوم چې د رایې ورکونې په مرکزونو کې یا هغو ته په نږدې ځایونو کې موندل شوې وو، مخکې لدې چې ملکي وګړو ته زیان ورسوي، شنډ کړل.

**میتودولوژي**

دا راپور د هغو معلوماتو پراساس دی چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې لخوا راټول شوي او د بشري حقونو د نړیوال قانون او نړیوال بشر دوستانه قانون په اصولو برابر دي. د دغه راپور میتودولوژی د غوره کړنو او د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر د لارښونې او لارښود سره په مطابقت کې ده.

د ملکي تلفاتو په اړوند وړاندې شوي ارقام د جون له ۸ څخه د سپټمبر تر ۳۰ پورې، د نوم لیکنې د تقویې پړاو له پیل راهیسې، یعنی د ۲۰۱۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو د رایې اچونې تر دوه ورځو وروسته، په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي[6] په اړه دي او د یوناما د میتودولوژۍ له مخې تایید شوي ، چې یاد ارقام لږ تر لږه د دریو مختلفو او خپلواکو سرچینو څخه راټول شوي دي[7]. یوناما د مختلفو سرچینو څخه معلومات، د مستند شویو مدارکو او بشري سرچینو ، لکه قربانیانو ، شاهدانو ، د روغتونونو او روغتیایي

[6] د دې راپور د موخو سره سم، د ټاکنو پورې اړوند تاوتریخوالي د وسله والو نښتو هغو پیښو ته اشاره کوي په کوم کې چې د ټاکنو په پروسې کې ښکیل اشخاص یا د ټاکنو پورې اړوند شیان د برید هدف دي. د مثال په توګه، پدې کې د رای ورکولو په مرکزونو او د ټاکنو په کارمندانو د دولت ضد عناصرو بریدونه شامل دي، خو، د ټاکنو په اړوند مسلو کې به د خلکو تر منځ تاوتریخوالی تر پوښښ لاندې نه نیسي.
[7] د یوناما د میتودولوژي په اړه د لا زیاتو معلومات لپاره د یوناما کلنې رپوټ "په وسلو واله شخړه کې د ملکیانو ساتنه: د ۲۰۱۸ کلني رپوټ (د ۲۰۱۹ د فبروری۲۳) " تر عنوان لاندې چې آنلاین بڼه په لاندې لینک کې وګورئ.

کلینیکونو څخه د قربانیانو لیستونه ، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په ولایتي او ملي کچه ، د ولسوالی ، په ولایتي او ملي کچه دولتي او امنیتي چارواکو؛ همدارنګه د ټولنې د مشرانو ، د مدني ټولنې د فعالینو په شمول د ژورنالستانو راټول کړي. یوناما د افغانستان د حکومت او همدارنګه د طالبانو اعلامیې، خبري رپوټونه او د ټولنیزو رسنیو حسابونه تحلیلوي ، مګر د یادې میتودولوژۍ له مخې، هغه سرچینې نه ګڼل کیږي. یوناما د ملګرو ملتونو له نورو ادارو څخه هم معلومات لاسته راوړي.

لکه څنګه چې د دغه رپوټ د چاپ په وخت کې د اضافي پیښو تایید دوام لري ، ذکر شوی معلومات پدې راپور کې باید ابتدایي وګڼل شي. د ملکي تلفاتو نهایي ارقام او نور معلومات به په ټاکنو پورې د اړوند تاوتریخوالي څخه د ملکي وګړو د اغیز په هکله د یوناما د وسله والو نښتو د ۲۰۱۹ په کلنی راپور کې د ملکي وګړو د ساتنې په برخه کې خپاره شي[8].

**د ټاکنو له ورځې څخه د مخه د نوم لیکنې تقویتي او کمپاین موده**

د نوم لیکنې له تقویتي پروسې څخه چې د ۲۰۱۹ کال د جون له ۸ راهیسې پیل او د سپټمبر تر ۲۷ نیټې یعني د ۲۰۱۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو څخه یوه ورځ وړاندې پورې دوام درلود، د ملکي تلفاتو ارقام د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو د میاشتو په پرتله د پام وړ ټیټ پاتې وو[9]. یوناما د ټاکنو د اړوند تاوتریخوالي له امله ۱۸۰ ملکي تلفات (۵۷ مړه او ۱۲۳ ټپیان) ثبت کړي چې د دولت ضد عناصرو لخوا ، په ځانګړي توګه، د طالبانو لخوا د رایې ورکولو له ورځې دمخه ترسره شوي وو. یوناما د نهو ملکي وګړو د تښتونې او د ټاکنو په پروسې پورې د اړوند د ګواښ ، ډارونې او یا ځورونې ۲۸ پیښې ثبت کړي ، چې یوناما ټولې هغه طالبانو ته منسوب کړې.

د جولای او سپټمبر په میاشتو کې دوو لویو بریدونو تر ۱۵۰ ډیر ملکي تلفات رامنځته کړل چې د رایې ورکولو له ورځې د مخه په ټاکنو پورې د اړوند ملکي تلفاتو ۸۰ سلنه څخه ډیر وو. د جولای په ۲۸ ، دولت ضد عناصرو په کابل کې یو ډله ییز برید ترسره کړ چې د روند سبز دفتر یې[10] په نښه کړ چې د ۷۱ ملکي وګړو د تلفاتو (۲۱ مړه او ۵۰ ټپیان) لامل شو. د یاد برید په ترڅ کې یوه ځان وژونکي بریدګر په لاس جوړ چاودیدونکي توکي او د ریموټ کنټرول په ذریعه یو موټر بم د ودانۍ بهر وچاوه چېرته چې نوماند ولسمشر معاون، امرالله صالح، د ملاتړ کونکو د یوې ډلې سره ناسته درلوده. بیا ، وسله وال برید کونکي ، د یو ځانمرګي برید کونکي په ګډون ودانۍ ته ننوتل. د افغانستان د پولیسو ځانګړي قطعې (CRU-222 ) خلک له ودانۍ څخه و ایستل او برید یې پای ته ورساوه. کومې ډلې د پیښې مسولیت په غاړه ندی اخیستی. د سپټمبر په ۱۷، طالبانو په پروان کې د ملي پولیسو روزنیز مرکز ته څیرمه یو ځانمرګی برید ترسره کړ چیرې چې د ولسمشر غني لپاره یوه انتخاباتي غونډه ترسره کیده. یاد برید د ۸۱ ملکي تلفاتو (۳۰ مړه او ۵۱ ټپیان) لامل شوی. طالبانو په پروان کې د برید مسولیت په غاړه اخیستی او ویلي یې دي چې دوی خلکو ته خبرداری ورکړی و چې په ټاکنو پورې اړوندو غونډو کې برخه وا نه خلي ځکه چې دوی یې نظامي هدف ګڼي[11].

د ټاکنو د ورځې دمخه، طالبانو د ټاکنو د ګډوډولو په اړه خپله اراده د دریو اعلامیو له طریقه بیان کړې وه. د اګست په ۶، طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه چې پکې د ټاکنو د پروسې د ګډوډولو قصد ښودل شوی او د افغانستان اتباعو ته یې خبرداری ورکړی وو چې د انتخاباتي غونډو څخه لرې پاتې شي ځکه چې دوی "احتمالي هدف ګرځیدلی شي"[12]. د سپټمبر په ۱۸، د طالبانو د ښوونې او لوړو زده کړو کمیسیون یوه بله اعلامیه خپره کړه چې پکې اشاره شوې چې ښوونځي د بریدونو هدف ګرځیدلی شي، ښوونکو او زده کونکو ته یې خبرداری ورکړی و چې ځان ته د زیان د اوښتو د مخنیوي لپاره د انتخاباتي پروسې څخه لرې پاتې شي[13]. د سپټمبر په

---

[8] تمه کیږي چې دغه رپوټ د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په میاشت کې خپور.

[9] د یوناما دوه ځانګړي رپوټونه چې په ۲۰۱۸ کال که د انتخاباتو اړوند تاوتریخوالي په اړه خپاره شول، په دغه لینک چې آنلاین بته یې شتون لري https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

[10] روند سبز په افغانستان یو سیاسي ګوند دې چې د امرالله صالح لخوا تاسیس شوی.

[11] طالبانو په ټویټر کې په پښتو ژبه د مسؤلیت ادعا خپره کړې چې په لاندی لینک کی د لاسرسې وړ ده. https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1173900099304546306?s=20.

[12] طالبانو د خپل انګلیسي ژبې ویبپاڼه کې، اعلامیه خپره کړې چې په لاندی لینک کی د لاسرسې وړ ده. https://alemarahenglish.com/?p=49655.

[13] طالبانو په ټویټر کې په پښتو ژبه د مسؤلیت ادعا خپره کړې چې په لاندی لینک کی د لاسرسې وړ ده.

۲۶، د طالبانو د ملکي تلفاتو او شکایتونو د مخنیوي کمیسیون لخوا افغانانو ته یو بل خبرداری خپور شو دا چې د رایې ورکولو په ورځ کې له سفر څخه ډډه وکړي او د طالبانو لخوا د "نظامي عملیاتو" له امله له ټاکنو څخه لیرې پاتې شي.[14]

**د ټاکنو په ورځ او له هغه سملاسي وروسته تاوتریخوالی**

**ملکي تلفات**

د سپټمبر د میاشتې په ۲۸، یعني د ټاکنو په ورځ، د ټاکنو سره د تړلي تاوتریخوالي په نتیجه کې، یوناما د هیواد په کچه د ټولټال ۲۷۷ ملکي تلفاتو (۲۸ مړه او ۲۴۹ ټپیان) په درلودلو سره، ټولټال ۱۰۰ پیښې تصدیق کړې. د ټاکنو په تړاو د تاوتریخوالي په نتیجه کې د ټاکنو په ورځ د ټولو ملکي تلفاتو ۴۵ سلنه ښځې[15] او ماشومان[16] وو. یوناما د ټاکنو ۱۱ ټپي شوي کارکونکي هم مستند کړي. د دغو پیښو له جملې څخه، یوناما د ټاکنو په ورځ ټولټال ۲۶۳ ملکي تلفات ( ۲۸ مړه او ۲۳۵ ټپیان) – د ټولو ملکي تلفاتو ۹۵ سلنه - طالبانو[17] ته منسوب کړې، او پاته برخه د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو تر منځ د ډزو تبادلې ته منسوب کړي او یوه پیښه دولت پلوه وسله و الې ډلې ته منسوب شوې.[18] د دې راپور د چمتو کولو په وخت کې، یوناما د ټاکنو په ورځ داعش/اسلامي دولت- خراسان ولایت (ISKP) ته هیڅ ملکي تلفات نه دي منسوب کړي.[19] په داسې حال کې چې د ملکي تلفاتو ټولیز شمیر په ۲۰۱۸ کال کې د پارلماني ټاکنو د لومړۍ ورځې پر مهال د ثبت شویو ارقامو په پرتله ټیټ وو، د ملکي تلفاتو کچې، د ماشومانو د تلفاتو په شمول، د ۲۰۱۴ کال په اپریل کې د ولسمشریزو ټاکنو د لومړي پړاو د لومړۍ ورځې څخه هم لوړې وې، او همدارنګه په همدې کال کې د جون په میاشت کې د ولسمشریزو ټاکنو د دوهم پړاو څخه هم لوړې وې.[20]

غیر مستقیمو ډزو، په خاص ډول هاوانونو، راکیټونو او لاسي بمونو د رایې ورکونې په ورځ چې هدف یې په ټاکنیز بهیر پورې اړوند اشخاص او شیان وو، ټولټال ۱۹۱ ملکي تلفات (۲۲ مړه او ۱۶۹ ټپیان) اړولي. دغه وسلې د ویشتلو غیر دقیق سیسټمونه لري، کله چې دغه وسلې د ملکي ګڼ میشتو سیمو څخه یا په هغو باندې وتوغول شي، د بې توپیره اغیزو خطر زیاتیږي. د ملکیانو نږدې نیمایي برخه چې د دغو بې توپیره بریدونو په پایله کې اغیزمن شوي ماشومان وو.[21]

ډیری ملکي کسانو ته د ټاکنو په تړاو د تاوتریخوالي له امله مرګ ژوبله اوښتې حال دا چې هغوي په ټاکنو کې په فعال ډول برخه نه وه اخیستې. یوناما مستنده کړې چې د ټولټال ۵۵ ماشومانو او ۱۱ ښځو په ګډون، نږدې ۸۵ ملکیانو ( ۱۲ مړه او ۷۳ ټپیان) د استوګنې په خپلو کورونو کې ورته زیان اوښتی. د بیلګې په توګه، طالبانو د ټاکنو په ورځ د ارزګان ولایت په ترینکوټ ښار کې د والي

https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1174192534354108416?s=20.

[14] طالبانو په خپله انګلیسي ژبې ویبپاڼه کې، اعلامیه خپره کړې چې په لاندی لینک کی د لاسرسې وړ ده.
https://alemarahenglish.com/?p=52430.

[15] یوناما د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۰ د ( پارلماني ټاکنو) په ورځ د ټولټال ۵۴ ښځینه تلفاتو ( ۷ مړو او ۴۷ ټپیانو) په پرتله، د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۲۹، د ( ولسمشریزو ټاکنو) په ورځ ټولټال ۲۳ ښځینه تلفات (۴ مړه او ۱۹ ټپیان) تایید کړي دي. یوناما داسې هیڅ ډول بریدونه نه دي مستند کړي چې په ځانګړي توګه یې ښځینه رایې ورکونکي یا د رایې ورکولو ښځینه مرکزونه په نښه کړي وي.

[16] یوناما د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۰ د ( پارلماني ټاکنو) په ورځ د ټولټال ۱۰۹ ښځینه تلفاتو ( ۱۸ مړو او ۹۱ ټپیانو) په پرتله، د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۲۹، د ( ولسمشریزو ټاکنو) په ورځ ټولټال ۱۰۳ ښځینه تلفات (۱۳ مړه او ۹۰ ټپیان) تایید کړي دي.

[17] دا د ټولټال ۳۱۸ ملکي تلفاتو (۴۲ مړه او ۲۷۶ ټپیان) سره پرتله شوې کوم چې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۰ یعني د رایې ورکولو په لومړۍ ورځ طالبانو ته منسوب شوې.

[18] د ملکي تلفاتو سربیره کوم چې د ټاکنو په تړاو د تاوتریخوالي په نتیجه کې را منځ ته شوي د رایې اچونې په ورځ یې ټاکنیز بهیر په نښه کړ، یوناما همدارنګه ټولټال ۶۳ ملکي تلفات (۱۱ مړه او ۵۲ ټپیان) کوم چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي چې موخه یې د طالبانو په نښه کول وه، تایید کړي، چې زیاتره ملکي تلفات د طالبانو له خوا د ګواښونو ا و بریدونو په غبرګون کې پیښ شوي.

[19] د سپټمبر د میاشتې د ۲۹ نیټې په یوه اعلامیه کې، داعش په ننګرهار کې په لاس جوړ چاودیدونکو توکو په واسطه د تلفاتو د اړولو ادعا ومنله. یوناما د دې راپور د چمتو کولو پر مهال د دې ادعا د تعقیب چارو ته دوام ورکړی. د یوناما د ملکي کسانو د ساتنې د ډیټابیس په اړه دوسیې په هکله بیان. د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۰، د پارلماني ټاکنو لپاره د رایې په ورکولو په ورځ، یوناما ټولټال ۵۳ ملکي تلفات (۱۳ مړه او ۴۰ ټپیان) داعش ته منسوب کړي.

[20] د دې راپور ۴ او ۵ لمنلیکونه وګورئ. یوناما د ۲۰۱۴ کال د جون په ۱۴ ( د مخکنیو ولسمشریزو ټاکنو لپاره د دوهم پړاو ټاکنو د رای اچونې په ورځ) د ماشومانو ټولټال ۶۸ تلفات (۱۳ مړه او ۵۵ ټپیان) او د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۵ د ماشومانو ټولټال ۴۵ تلفات (۶ مړه او ۳۹ ټپیان) مستند کړي.

[21] یوناما د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي په اړوند د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۲۸ د غیر مستقیمو ډزو په پایله کې ټولټال ۸۹ ملنکي تلفات (۱۱ مړه او ۷۸ ټپیان) مستند کړي.

دفتر ته څېرمه د راکټ یوه مرمۍ وتوغوله چې د استوګنې پر یوه کور ولګېده چې په نتیجه کې یې دوه ملکیان (یوه ښځه او یو ماشوم) ووژل شول او اووه ملکیان (څلور ماشومان، دوه ښځې او یو نارینه) ټپیان شول. د کنړ ولایت په دنګام ولسوالۍ کې، طالبانو غرونو ته څېرمه د دوو ښوونځیو پر لور چې د رایو د مرکزونو په حیث کارېدل د هاوان مرمۍ وتوغولې، د هاوان یوې مرمۍ د ولسوالۍ د مرکز شاته اصابت وکړ، د څلورو ماشومانو او یوې ښځې په شمول یې شپږ ملکیان ټپیان کړل. د هاوان بلې مرمۍ نږدې اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې یوه بله ښځه ټپي شوه. طالبانو پر ټویټر د دانګام د ولسوالۍ پر اداري مرکز د برید پړه ومنله.[22] طالبانو د پروان ولایت په سیاه ګرد ولسوالۍ کې د یوه ښوونځي پر لور چې د ولسوالۍ په اداري مرکز کې د رایې اچونې د یوه مرکز په حیث ترې کار اخیستل کېده، راکټونه وتوغول. یو راکټ د استوګنې پر یوه کور ولګېد چې په نتیجه کې یې یوه ۱۵ کلنه نجلۍ ووژل شوه او درې ځواني نجونې او یو تن بالغ نارینه ټپیان کړل. د استوګنې دوه کورونه قسما زیانمن شول.

د ملکي تلفاتو له جملې څخه چې د ټاکنو په ورځ تایید شوې، ټولټال ۵۴ ملکي تلفات(۳ مړه او ۵۱ ټپیان) د رایې ورکونې مرکزونو ته څېرمه د ښخ شویو په لاس جوړ چاودیدونکو توکو له امله را منځ ته شوي چې موخه یې د رایې ورکولو څخه د ملکیانو راګرزول و. د بېلګې په توګه د سپټمبر د ۲۸ نیټې پر سهار، د کندهار په ښار کې یوه جومات او یوې مدرسې ته څېرمه، چې د رایې ورکونې د مرکزونو په حیث ور څخه کار اخیستل کېدل، د ریموټ کنټرول په واسطه په لاس جوړ چاودیدونکی توکی وچاودېدل چې په نتیجه کې یې د یوه ماشوم، د افغان ملي پولیسو د یوه تن افسر چې د مرکز څخه یې ساتنه کوله، د رایې اچونې د مرکز د یوه کارکوونکي، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ولایتي کارکونکي او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د یوه تن ولایتي کارکونکي په شمول، ۱۸ تنه ملکیان ټپیان کړل.

د ټاکنو د ورځې سملاسي وروسته، یوناما د یوه تن ملکي د تلف کېدو په دردلودلو سره، د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي په نتیجه کې د یوه تن تلف کېدل تایید کړي دي. د سپټمبر په ۳۰، د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې طالبانو یو ملکي شخص په داسې حال په ډزو وویشت او ټپي کړ چې د پکتیا ولایت د مرکز په لور یې د رایې اچونې صندوقونه لېږدول.

**تښتونې، ګواښونه، ډارونې او ځورونې**

د ملکي تلفاتو د لامل کېدو سربېره، یوناما همدارازد طالبانو له خوا د ټاکنو د مختل کېدو د یوې هڅې په حیث د ترسره شویو تښتونو، ګواښونو، ډارونو او ځورونو په اړه د اندېښنې وړ نمونې مستندې کړې دي. دغه پېښې د خشونت په برخه کې د هغه زیاتوالي په شالید کې واقع شوې کوم چې د جولای، اګسټ او سپټمبر په میاشتو کې مشاهده شوې او کوم چې د یو شمیر ملکي کسانو په منځ کې امنیتي اندېښنې را منځ ته کړې. د دې سربېره، د طالبانو له خوا د ګواښونو له امله، د هیواد په پراخو سیمو کې د ګرځنده تیلیفونونو اتصال محدود پاته شوی.

یوناما د رایې اچونې په ورځ او له هغه ژر وروسته موده کې د طالبانو له خوا د ۱۵ کسانو چې د ټاکنو کارکونکي وو، تښتول مستند کړي. د بېلګې په توګه، د پروان په ولایت کې، د رایې اچونې د ورځې په ماشام، طالبانو د رایې ورکونې د یوه مرکز څخه د ټاکنو اته تنه کارکونکي چې کله د شینوارو د ولسوالۍ اداري مرکز ته پر لار وو، وتتښتول.

د دې سربېره، یوناما د طالبانو له خوا د ګواښ، ډارونې او ځورونې په تړاو ۹۱ پېښې مستندې کړې دي، یوه پېښه داعش ته منسوب شوې چې له امله یې د رایو مرکزونه یا سایټونه تړل شوي، د هغو د بیا پرانیستل کېدو مخه یې نیولې، یا یې د رایې اچولو بهیر په جدي توګه مختل کړی. طالبانو د رایې اچونې په ورځ د ګواښونو، ډارونو یا ځورونو بېلابېلې نمونې کارولې، د بېلګې په توګه، د رایې اچونې د مرکزونو پر وړاندې د غیر مستقیمو ډزو د فیر کولو له لارې او د هغو په شمول، د سړکونو تړل، د ناقانونه پوستو جوړول څو په ټاکنیزه پروسه کې د رایې ورکونکو د ګډون مخه ونیسي، له ګواښه ډکو لیکونو خپرول او د ښوونځو او روغتیایي کلینیکونو په شمول د رایې ورکونې د مرکزونو په دننه او د هغو څخه باندې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ځای پر ځای کول. د بېلګې په توګه، د کنړ ولایت په بر کونړ ولسوالۍ کې طالبانو د رایې اچونې مرکزونه چې د پلوڅو ناو ښوونځې، د شنګر

[22] طلبانو په ټویټر په انګلیسي یو بیان خپور کړ چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دی:
https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1177798898158583809.

د هلکانو په عالي لیسه، د ډمبرو په جومات او د ولسوالي په جومات کې ځا په ځای شوې وو، د غیر مستقیمو ډزو او سپکو وسلو د ډزو په واسطه تر برید لاندې ونیول چې په نتیجه کې یې د راي ورکونې بهیر مختل شو. طالبانو د دغو بریدونو لپاره مسولیت ومانه.[23] په بغلان ولایت کې طالبانو، د دې په خاطر چې رایه ورکونکي د راپې اچونې د مرکزونو څخه راوګرزوي، په هغه سړک یو پل ویجاړ کړ چې مزارشریف له پلخمري سره نښلوي. د غزني ولایت په ګیلان ولسوالي کې طالبانو، د بالقوه راپې ورکونکو د خبرداري لپاره شبنامې خپرې کړې، او له خلکو یې وغوښتل چې په ولسمشریزو ټاکنو کې برخه وا نه خلي. د پلخمري په ښار کې، په لاس جوړ چاودیدونکې توکې چې د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوې وو د فاطمه زهرا د نجونو په عالي لیسه او د نساجي د فابریکې په سیمه کې وچاودیدل. که څه هم چې دغو په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ملکي تلفات او جایدادونو ته کوم زیان وا نه ړاوه، خو پیښو په ملکیانو ډارونکې اغیزې دردلودې. په همدې ښار کې، افغان امنیتي ځواکونو هم په لاس جوړ نهه چاودیدونکې توکي له منځه وړلي کوم چې د راپې ورکونې د مرکزونو په شاخوا کې ځای پر ځای شوې وو.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان د حکومت د هڅو، چې موخه یې د راپې اچونې د مرکزونو او سایټونو د امنیت تامین او همداراز په خوندي توګه د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو شنډول دی، ممکن د پورته یادو شویو هڅو پرته د ملکي تلفاتو ټولیز ارقام لا تر دې هم لوړ وای.

**د ښوونیزو او روغتیایي** تاسیساتو **و پر وړاندې بریدونه**

یوناما د طالبانو له خوا هغه بریدونه مستند کړي چې موخه یې د راپې اچونې د مرکزونو په نښه کول دي کوم چې په ښوونیزو او روغتیایي ادارو کې مستقر و. د دغو پیښو له جملې څخه یوناما ټولټال ۱۵ قضیې تایید کړې د کومو په نتیجه کې چې ښوونځیو او روغتیایي تاسیساتو ته زیان اوښتی.

د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو د راپې ورکولو په ورځ او د راپې اچونې د ورځې څخه څو ورځې وړاندې، دولتي ښوونځیو د ټولو زده کونکو لپاره وتړل شوې. یوناما په ۱۲ پیښو کې ښوونځیو ته اوښتي زیانونه، تر ډیره د کړکیو درې وړي کیدل او د دیوالونه زیانمنیدل چې یا خو د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو یا د غیر مستقیمو ډزو په پایله کې را منځ ته شوې، نه دي مستند کړي. د ټاکنو په ورځ د جوزجان ولایت په فیض اباد کې، د طالبانو له خوا د هاوان توغول شوې ګولۍ د راپې اچونې مرکز ته څېرمه چې د لطیفي شهید د نجونو په ښوونځي کې واقع شوې اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې د یاد ښوونځي د اوبو ټانکۍ زیانمنه او کړکۍ ماتې کړې.

په دریو قضیو کې، یوناما کلینیکونو ته چې د راپې اچونو د مرکزونو په حیث کاریدل او د طالبانو د بریدونو په پایله کې ورته د غیر مستقیمو ډزو په واسطه زیانونه اوښتي، اوښتي زیانونه مستند کړي. د راپې اچونې د ورځې پر مهال، د طالبانو له خوا د هاوان یوه مرمۍ وتوغول شوه چې موخه یې د ټاکنو ګوډول و چې په ترڅ کې یې د زابل ولایت په کلات کې د روغتون عاجلي څانګې او د عامې روغتیا وزارت یوه امبولانس موټر ته زیان پیښ کړ. د یاد تعمیر څخه له هغه وروسته چې کلات ولایتي روغتون د طالبانو له خوا د سپتمبر په ۱۹ د ځانمرګي برید په پایله کې په جدي توګه زیانمن شو هم د رایو د اچولو د مرکز او هم د روغتون په حیث ترې کار اخیستل کیده.

## حقوقي تحلیل

یوناما یوځل بیا تاکید کوي چې په افغانستان کې د ټاکنو پروسه یوه ملکي دنده ده او دا چې د نوماندانو ، رایه ورکونکو یا د ټاکنو د کارکوونکو پشمول، د ټولو اتباعو اساسي او بنیادي بشری حق دی چې له تبعیض او غیر معقولو محدودیتونو پرته په ټاکنو کې برخه واخلي، کوم چې په نړیوال بشري قانون او د افغانستان په قانون کې تضمین شوي. سربیره پردې ، د اغیزمنو ټاکنو د پروسې لپاره اړینه ده چې د ټولو افرادو، لکه د رای ورکونکو ، کاندیدانو او د هغوی د ملاتړ کونکو او په ټاکنو پورې د اړوندو کارمندانو،

[23] طالبانو په ټویټر په انګلیسی ژبه یو بیان خپور کړ، چې په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1177799426636681216.

حق دې ترڅو په هر پړاو کې یعنې د رایې ورکونکو او د کاندیدانو له نوم لیکنې څخه تر رای اچونې پورې او د ټاکنو وروسته دوره کې له ویرې او ډار څخه پرته، فعالیت وکړي[24].

په ټاکنو پورې اړوندې غونډې په ماهیت کې ملکي کړنې ګڼل کیږي او له همدې امله د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې له برید څخه خوندي وي. سربیره پردې ، د نړیوال بشر دوستانه قانون پر اساس، په انتخاباتي پروسو کې د نه ګډون په اړه د اخطارونو خپرول، چې د خبرداري ورکوونکي ډلې مکلفیتونه، د ملکیانو او ملکي شیانو پر وړاندې د بریدونو څخه د ساتنې مکلفیت او تفکیک، احتیاط او تناسب د اصولو د رعایت پشمول، نشي کولای لرې کړي.

د رای ورکونې د مرکزونو په شمول، د ملکي کسانو او ملکي شیانو پر وړاندې د تاوتریخوالي عمدي عملونه او بې توپیره بریدونه د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې په جدي توګه منع شوي او ممکن په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي[25]. همدا راز، د افغانستان د ملکي وګړو پر وړاندې پراخ او سیستماتیک بریدونه ممکن جنګي جرایم وشمیرل شي[26].

سربیره پردې ، د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې، د ملکي وګړو ترمنځ د ترهه خپرولو په هدف د تاوتریخوالي عملونه یا ګواښونه ترسره کول منع دي[27]. همدارنګه، یوناما ټینګار کوي چې ښوونځي ، جوماتونه[28] او کلینیکونه[29] د هغوی د ځانګړي دیني، ټولنیز، او بشردوستانه اهمیت له امله ورته ته د نړیوال قانون له مخې ځانګړې محافظت په پام کې نیول شوی او کله چې یاد محلونه د رایې ورکولو د مرکزونو په توګه وکارول شي، دغه محافظت باید له لاسه ورنکړي.

ماموریت یوځل بیا دولت ضد عناصرو ته وایي چې د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې، هغه بریدونه منع دي چې کیدای شي له امله یې ملکي وګړو یا ملکي شیانو ته په ناڅاپي ډول مرګ ژوبله واړوي ، یا د هغو ترکیب، کوم چې د پیش بینې شوي واقعي او مستقیم نظامي مستقیم له مزیت د حدودو څخه زیات وي.

په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو او غیر مستقیمو وسلو کارول پر ملکي کسانو د دې وسلو د نه پیش بینی وړ او بې توپیره اغیزو په اړه خاصې اندیښنې راپورته کوي. هاوانونه او راکټونه له ځانه سره د ویشتلو غیر دقیق سیستمونه لري او کله چې د ملکي ګڼ میشتو سیمو څخه او یا د هغو په دننه کې وکارول شي، نو مستدل ده چې هغه وسلې به ملکیانو ته زیان واړوي.

**سپارښتنې**

یوناما په افغانستان کې د انتخاباتي پروسې پر وړاندې ټول بریدونه په کلکه غندي او د ټاکنو د رواني پروسې په جریان کې او په راتلونکو ټاکنو کې د ملکیانو د ساتنې د زیاتوالي په مقصد، لاندې وړاندیزونه کوي.

**دولت ضد عناصر**

ماموریت د دولت ضد عناصرو څخه بیا غوښتنه کوي چې د ملکیانو پر وړاندې ، د ټاکنو پرسونل ، امنیتي ځواکونو چې د ټاکنو د محلاتو ساتنه کوي او د ټاکنو د موادو د لیږدولو مسؤلیت لري ، د کمپاین د کارمندانو او همدا راز د افغان وګړو چې د رای ورکولو له خپل حق څخه کار اخلي، په سمدستي ډول بریدونه او ګواښونه ودروي.

---

[24] د ملکي او سیاسي حقونو په اړه نړیوال میثاق، ۲۵ ماده.
[25] د ICRC د نړیوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه مطالعه، ۱۱، ۱۲ او ۱۵۶ قاعدې; د نړیوالې جزایي محکمې اساسنامه (د روم اساسنامه)، ۲ فقره، ۸ ماده
[26] د روم اساسنامه ، ۷ ماده ، ۱ فقره
[27] د جنیوا د کنوانسیونونو په اړه لومړي اضافي پروتوکول، فقره ۳ ، ماده ۵۱ او د ژینوا کنوانسیونونو په اړه دویم اضافي پروتوکول، فقره ۲، ماده ۱۳
[28] د ICRC د نړیوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه مطالعه، ۳۸ قاعده
[29] د ICRC د نړیوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه مطالعه، ۲۸ قاعده

سربېره پردې ، د ملکي وګړو ترمنځ د ترهه خپرولو په هدف د تاوتريخوالي اعمال يا ګواښونه د نړيوال بشردوستانه قانون له مخې منع دي. يوناما همدارنګه ټينګار کوي چې ښوونځي ، جوماتونه او کلينيکونه د ځانګړي قانون ، ټولنيز او بشردوستانه اهميت له امله د نړيوال قانون له مخې ځانګړی محافظت لري ، کله چې ياد شوې محلونه د رايې ورکولو د مرکزونو په توګه وکارول شي، دغه محافظت له لاسه ورنه کړي.

ماموريت تکراروي چې د دولت ضد عناصر بايد په سملاسي توګه په ټاکنو پورې په اړوندو تاسيساتو باندې بريدونه ودروي ، او ځانګړې پاملرنه وکړي ترڅو اطمينان ترلاسه کړي چې د ټاکنو په پروسه کې کارول شوي ښوونځي ، روغتيايي تاسيسات او جوماتونه د بريد څخه خوندي پاتې وي.

يوناما د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې د 'ملکي' ، 'ملکي شيانو' او 'نظامي هدف' هغه تعريف چې د نړيوال بشردوستانه قانون سره مطابقت ولري، وکاروي.

د نړيوال بشردوستانه قانون د مکلفيتونو سره سم ، د دولت ضد عناصر بايد په هغه سيمو کې چې د ملکي وګړو لخوا کارول کيږي، د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو بې توپيره کارول ودروي او بايد سمدلاسه د فشار په ذريعه د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو کارول ودروي ، کوم چې د قرباني شخص په وسيله فعاله کيږي او د ماينونو په توګه فعاليت کوي.

ماموريت د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې د ملکي وګړو د ميشت ځايونو څخه او په هغو باندی د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو توغول بند کړي او ټولې هغه کړنې ودروي چې د افغانانو په منځ کې ويره خپروي. د دولت ضد عناصرو څخه غوښته کيږي چې له خپلو غړو څخه وغواړي ترڅو هغو افغانانو ته جزا ور نه کړي يا هغوی اختطاف نه کړي چا چې په وروستيو ټاکنو کې برخه اخيستې. همدارنګه، د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کيږي ترڅو خپلو غړو ته ور په ياد کړي چې د ټولو افغانانو حق ته درناوی وکړي ترڅو په آزاده توګه او له ويرې پرته په سياسي پروسو کې برخه واخلي.

## افغان حکومت

يوناما له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د ملکي وګړو پر وړاندې د تروريستي بريدونو ډولونه يا نمونې ، د ملکي شيانو لکه د رايې ورکونې پر مرکزونو د بريدونو په شمول، په بشپړ ډول مستندې کړي او پلټنه يې وکړي او په راتلونکې ټاکنو کې د هغوی د خونديتوب لپاره اقدامات وکړي؛ او همدارنګه له دولت څخه غوښتنه کوي چې د  مرتکيبينو مسول ګڼلو لپاره سملاسی اقدامونه پورته کړي.

يوناما د ټاکنو د پروسې د ساتنې لپاره د حکومت لخوا په ځانګړې توګه د امنيتي تدابيرو د رامنځ ته کولو هڅې ستايي؛ او د افغانستان حکومت ته وړانديز کوي چې د ټاکنو په پروسه کې د ښکيلو ملکي وګړو د امنيت د برابرولو په برخه کې د غوره کړنو او د اصلاحاتو لپاره ساحې په بشپړ ډول و ارزوي. پدې کې په هغو ځايونو کې د رايې ورکولو د مرکزونو د ايجاد بيا ارزونه هم شامله ده چيرې چې کيدای شي د ښوونيز او روغتيايي تاسيسات د بريد تر خطر لاندې وي.